**Migration and Refugee Services**
Renewing Hope. Seeking Justice.
UNITED STATES CONFERENCE OF CATHOLIC BISHOPS

# د افغانانو لپاره د بشردوستانه ویزو تمدید، بیا ځلي د نوموړو ویزو ورکړه، د کار کولو صلاحیت او د ORR امتیازات (Pashto)

د هغه پر شرایطو برابر افغان تابعیت لرونکو لپاره چې د ۲۰۲۱ کال د جولای په ۳۱ او له هغه وروسته ورته د OAR, OAW او PAR له لارې بشردوستانه ویزې ورکړل شوي.

| | د بشردوستانه ویزو تمدید | بیاځلې د بشردوستانه ویزو ورکړه |
|---|---|---|
| **پروسه / شرایط پوره کول**<br>**تړونی یا لینک** | USCISپه اتومات ډول د هغه افغانانو د لومړنیوبشردوستانه ویزو تمدید په پام کې نیسي چې غوښتنلیکونه یې تر پروسس لاندې وي تر څو له تلپاتي او دوامداره امتیازاتو څخه برخمن شي *:<br>• **د حقوقي حالت تنظیم (I-485)**<br>• **پناه غوښتنه (I-589)** | په بریښنایي یا لیکلې بڼه د USCIS فورم I-131 ډک کړئ، هغوی چې حقوقي حالت یې نه وي ځنډیدلی او د پناه غوښتنې غوښتنلیک یې هم د تعلیق په حالت کې نه وي کولای شي نوموړی ګام واخلي تر څو له هغه مودې څخه چې د بشردوستانه ویزې لپاره ورته په لومړیو کې ټاکل شوې نور وخت واخلي او د ځانګړو امتیازاتو څخه د برخمن کیدلو حالت وساتي. |
| **د کار کولو سند**<br>د بشردوستانه ویزې له لومړي پړاو وروسته<br>تړونی یا لینک | د بشردوستانه ویزې د تمدید د اپرول یا منلو وروسته، لاندې اسناد د I-9 د موخو لپاره د کار کولو د صلاحیت د سند په توګه کار کوي:<br>د ۹۰ ورځو لپاره: **هغه I-94 چې تاریخ یې تېر نه وي**<br>له ۹۰ ورځو وروسته: **c11 EAD ایکسپایر شوې + I-797C** | د بیا ځلې بشردوستانه ویزې له منلو وروسته، لاندې اسناد I-9 د کار کولو د واک د سند په توګه کار کوي :<br>د ۹۰ ورځو لپاره: **هغه I-94 چې ایکسپایر نه وي**<br>له ۹۰ ورځو وروسته: **هغه EAD چې ایکسپایر نه وي** |
| **د کار کولو د اجازې د اسنادو (EAD) یا پروسس کول**<br>**تړونی یا لینک** | د بشردوستانه ویزې د تمدید د یوې برخې په توګه USCIS د کار اجازه یا EAD نه ورکوي. د منل شوې بشردوستانه ویزې په لرلو سره افغانان د هغوی حالت او موقف ته په پام سره د کار کولو اجازه لري په دې مانا چې هغوی د قانوني کار کولو لپاره فزیکي EAD ته اړتیا نه لري.<br>هغه افغانان چې غواړي c(11) EAD ته اپلای وکړي، I-765 فورم دې ډک کړي، د نوموړي فورم فیس معاف دی. | هغه غوښتونکی چې په I-131 فورم کې یې د EAD غوښتنه کړې وي (لومړی سیکشن، ۸ مه برخه) او د بیاځلې بشردوستانه ویزې غوښتنه یې منل شوې وي، USCIS به سم له لاسه د هغوی د EAD غوښتنه پروسس کړي او د هغوی په ثبت شوي‌ادرس به یې ورته ولیږي. |
| **د ORR ګټې او امتیازات**<br>**تړونی یا لینک** | د ORR خدمات او امتیازات به د بشردوستانه ویزې پر شرایطو برابر هغو افغانانو لپاره جاري وي کوم چې د پناه غوښتنې غوښتنلیک لري او له USCIS سره یې د حقوقي‌حالت د تنظیم قضیه پرته وي چې د بشردوستانه ویزې د لومړنۍ مودې له ختمیدو وړاندې ثبت شوې وي. | د ORR خدمات او امتیازات به د بشردوستانه ویزې پر شرایطو برابر هغو افغانانو لپاره جاري وي کوم چې بیا ځلې بشردوستانه ویزې د ورکړې غوښتلیک یې تر پروسس لاندې وي او بشردوستانه ویزې د لومړنۍ مودې له ختمیدو وړاندې ثبت شوې وي. |
| **د کورنۍ غړي**<br>**تړونی یا لینک** | د پناه غوښتونکي ښځه/میړه او ماشومان د بشردوستانه ویزې د تمدید مستحق دي او د بیا ځلې بشردوستانه ویزې د غوښتنلیک ورکولو اړتیا ورته نشته. | د ماشومانو په شمول چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي د کورنۍ هر غړی باید د بیا ځلې بشردوستانه ویزې ځانګړی انفرادي غوښتنلیک ډک کړي. |

*هغه غوښتونکي چې د USCIS له لوري په اتوماتیک ډول د بشردوستانه ویزې د تمدید لپاره په پام کې نیول شوي اړ نه دي چې د I-131 فورم له لارې د بیاځلې بشردوستانه ویزې غوښتنه وکړي، دوی کولای شي د بیک آپ لپاره داسې وکړي.

**باید غوښتونکي مخکې له دې چې د USCIS له خبرداري پرته یې د بشردوستانه ویزې لومړۍ موده پای ته رسیږي او د هغوی د ویزې د تمدید او بیا ځلې ورکړې اړوند تصمیم نیول کیږي، باید په انلاین ډول online I-94 د خپلې بشردوستانه ویزې حالت چیک کړي کوم چې په اتومات ډول اپډیټ کیږي او د هغوی د ویزې د تمدید او بیا ځلې ورکړې حالت ښایي او یا هم له USCIS سره د جمعې او دوشنبې په ورځو د سهار له اتو د ماښام تر اتو 8am-8pm ET په لاندې شمیرو په اړیکه کې شي: 800-375-5283 (TTY 800-776-1833)

**د کډوالۍ او کار حقوق – د عدلیې د برخې اړیکشمیره**

که کوم مشتري له یو کار ورکوونکي سره د هغه د کار کولو د اجازې او صلاحیت په برخه کې ستونزه ولري یا د هغه د کار کولو با اعتباره اسناد نه مني نو مهرباني وکړۍ دغه تړوني ته مراجعه وکړئ Department of Justice’s Immigrant and Employee Rights
او یا هم په لاندې شمیرو اړیکه ونیسئ
د کار کوونکو د اړیکو شمیره: 1-800-255-7688
د کار ورکوونکو د اړیکو شمیره: 1-800-255-8155
Teletypewriter (TTY): (202) 616-5525 & 1-800-237-2515
د ترجمانۍ خدمات شتون لري، د اړیکو شمیره د جمعې او دوشنبې په ورځو له 9am-5pm ET پورې فعاله وي.